واحد فقیري ۹ نوامبر ۲۰۱٤

# د افغانستان او چین روابط!

چین ته د ریس صاحب محمد اشرف غني لومړی رسمي سفر د ځو دلایلو پر اساس مهم او ګټور وو. پدې سفر کي، د چین سره په سیاسي او اقتصادي برخو کي ځلور موافقي لاسلیک سوې. چین تر ۲۰۱۷ پوري د ۳۲۷ میلیون ډالرو مرستو ژمنه وکړه، او هم ئي په پنځو کلونو کي په مسلکي ساحو کي د ۳۰۰۰ افغانانو د روزولو وعده وکړه. دا ټول ددي سفر ښي لاسته راوړني دي، خو پدي شرط چي پر وخت عملي سي، او د پخواني حکومت کیسه تکراره نه سي— یعني وعدې ډېري، مګر کار او خدمت کم.

لازمه ده چي په سر کي دا وویل سي چي امریکا پدې خوشحاله ده چي چین په افغانستان کي فعال اقتصادي او سیاسي نقش ولري. امریکا او چین دواړه په افغانستان کي ثبات او سوله غواړي، ځکه سیاسي ثبات د دواړو په ګټه دی. امریکا هڅه کوي چي له افغانستانه ځان څه په آب او عزت خلاص کړي. بل پلو، چین غواړي چي په چم ګاونډ کي ئي سوله او امنیت ټینګ وي، او هم د تجارت، مارکیټ او پانګوني لپاره شرایط برابر وي. له نېکمرغه، دا ټول د افغانستان په نفع دي.

په عین زمان کي، د ښاغلي اوباما حکومت، البته په باطن کي، او اکثره امریکایان په ډاګه دې نتیجې ته رسېدلي دي چي په افغانستان کي ناکامه سوي دي، او د دې ناکامی د جبران لپاره د چین سره خو څه کوی حتی د ایران سره هم موافقي ته تیار دي. په بل عبارت، امریکا د دې نیت نه لري چي چین له افغانستان څخه کنترول کړي، بلکي امریکا په افغانستان کي د چین د پانګوني او فعال نقش هرکلی کوي. د مس عینک او د شمال په تیلو کي د چین اقتصادي څه پانګونه هله وسوه چي امریکا په افغانستان کي په زرهاوو عسکر لرل.

نن سبا، په افغانستان کي د چین اصلي اهداف پر امنیتي مسایلو باندي راڅرخي. د چین لویه اندېښنه له مذهبي افراطیت څخه ده. چین نه غواړي چي افغانستان یو ځل بیا د بین المللي تروریزم او افراطیت په مرکز بدل سي، او یا طالبان او یا نور مذهبي افراطیان یو وار بیا په افغانستان کي مطلق حاکم سي. چین له دی څخه ډارېږي چي په هغه حالت کي به ترک الاصله چینايي مسلمانان هم تقویه سي.

بلخوا، د افغانستان په مورد کي د چین او پاکستان په سیاستونو کي یو مهم د اختلاف ټکی همدا د مذهبي افراطیت تقویه کول دي. افغان دپلوماسي باید همدې ټکي ته جدي توجه وکړي. ځکه چین کولای سي چي د سولي په پروسه کي پاکستان دېته وهڅوي چي د مذهبي افراطیانو جمع طالبانو له حمایت څخه لاس واخلي او یا ئي لږ تر لږه کم کړي.

مګر د چین سره نژدې اړیکي باید د افغانستان او هند پر اړیکو باندي بده اغېزه و نه کړي. هند او چین ګاونډي ملکونه دي، او په عین حال کي څه پخوانی سیاسي رقابت، د تبت مسله، او څه سرحدي اختلافات هم لري. خو له نېکمرغه، دواړه د مذهبي افراطیت او تروریزم مخالف دي، او همداوس ورسره په جنګ کي دي. د هغوی دغه مشترک ټکی د مګڅ وړ دی، او د افغانستان لپاره ډېر ګټور تمامېدلای سي. بلخوا، هند د افغانستان په بیا ودانولو کي پانګونه کړې ده، او د شمال ایتلاف له زورواکانو سره اوږده سابقه لري.

د چین سره د نژدې اړیکو بل ښه اړخ دا دی چي چین په تاریخي لحاظ په خارج کي د مداخله کولو څخه ډډه کړې ده، او عموما ئي د نورو ملکونو سره سیاسي بېطرفي پاللې ده. د چین د نه مداخلې پالیسي یو دلیل ښایي دا وي چي چین



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

پخپله هم د بشر د حقوقو او مدني ازاديو په ارتباط په پوست پاک ندی، او په بين المللي ټولنو کي ښه شهرت نه لري. اما نن ورځ چين د اقتصادي او د خامو موادو د پيدا کولو ضرورتونو دېته اړ کړی دی چي په اسيا، افريقا او لاتيني امريکا کي د خامو موادو او نويو بازارونو د ميندولو کوښښ وکړي. که چيري د چين د اقتصادي ماشين د لاغښتلي کولو لپاره ځيني اسانتياوي او خام مواد په افغانستان کي برابر سي، دا ملګرتيا او متقابل تړاو د دواړو هېوادونو او سيمي په ګټه دی.

دغه راز، د چين له انکشافي تجربو څخه هم زياته استفاده کېدلای سي، ځکه د چين د اقتصادي معجزې اساس ښاغلي ډينګ شاوپنګ کښېښود. په ۱۹۷۰ کي، هغه او د چين نور مشران د مارکسيستي اقتصاد په ډيواليتوب پوه سول، او د ازاد بازار، خصوصي مالکيت، او خصوصي تشبث د ازادولو او تشويق لاره ئي غوره کړه. د چين حاکم کمونيستې ګوند د چين له ملي بورژوازي سره په ګډه خصوصي تشبث تقويه کړ، او چين ئي په قريب ۴۰ کلونو کي له يو وروسته پاته او زراعتي اقتصاد څخه نن ورځ د نړۍ په دوهم ستر اقتصادي طاقت باندي بدل کړ.

په پای کي، د چين سره ښه روابط بايد د نورو ملکونو سره د اړيکو د خرابېدو سبب نه سي. نه هم بايد د چين سره د پراخو روابطو درلودل د بل هېواد پر خلاف وکارول سي. دا يو غلط سياست او يو خام فکر دی. د درېيمي نړۍ ځينو مشرانو ګومان کاوه چي دوی کولای سي چي د لويو قدرتونو له رقابت څخه استفاده وکړي. هغوی فکر کاوه چي کولای سي لوی طاقتونه د يو او بل پر ضد وکاوري. حال دا چي د کمزورو ملکونو لپاره دغه ارمان يو خوب او خيال وو او دی. په تاريخ کي، دغه راز مشران عموما ناکامه سوي دي، او خپل ملتونه ئي د کلونو او حتی لسيزو لپاره د لويو ستونزو او مصيبتونو سره مخامخ کړي دي. د افغانستان په معاصر تاريخ کي له غرب څخه ليري کېدل او د شوروي اتحاد لوري ته ميلان کول افغانستان له سخت بحران او تباهی سره مواجه کړ. هيله ده چي تاريخ يو ځل بيا تکرار نه سي.

والسلام


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ